مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

پوهندوی آصف بهاند ۲۰۱۸/۰۲/۲۴

# د استاد بختاني مړينه

# څو پیامونه او یو لیک



**«خدمتګار لاړ، څو اوسني نسل او راتلونکو نسلونو ته یې د خپلو خدمتونو بې پایه پانګه په میراث کې پرېښوده.**
**استاد بختانی یو له هغو زړه سواندو دانشمندانو ځینې و چې هیڅکله یې خپل زده کړی علم له چا څخه نه سپماوه. په ډېره مینه یې هرکله، هر چیرې او هر چا ته لاربښوونه کوله.**
**ما ته د ده د لاربښوونو ډیوې څو، څو وارې ځلول شوې دي.**
**بختاني له ډېرو سره ښه وکړل، خدای دې ښه ورسره وکړي.»**
(آصف بهاند)

د استاد بختاني د مړینې خبر د ۲۰۱۸ کال د فبرورۍ په ۲۴مه خپور شو. د مرګ د خبر له خپریدو سره سم د استاد عبدالله بختاني دوستانو، شاګردانو، لارویانو او مخلصینو، د ده د مړینې په پار پیامونه خپاره او د خواشینۍ مراتب څرګند کړل.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

زه د استاد بختاني علمي شخصيت ته د درناوي په خاطر او له وطن او خلکو سره د ده د بې پايه مينې په پار؛ د ده د مړينې په خاطر لومړۍ د ده لنډه بيوگرافي، بيا د ځينو دوستانو ځو لنډ پيامونه او د موسی شفيق هغه ليک را اخلم چې له له مصر څخه يې د استاد بختاني په نامه راليږلی و.

استاد عبدالروف بينوا د اوسني ليکوال په لومړي ټوک کې کلونه پخوا د استاد بختاني بيوگرافي، د هغه وخت د مالوماتو پر اساس خوندي کړې وه. ځينې ټکي يې دا دي:

«ښاغلی عبدالله بختانی د ملا آغا جان زوی، د ننگرهار د سره رود، د بختان نومي کلي اوسيدونکی، د پښتو ژبې زلمی ليکونکی او حساس شاعر دی. په ۱۳۰۵ هـ ش کال په ننگرهار کې زيږيدلی او له اوه کلنۍ څخه يې، شپاړس کاله په خصوصي ډول د ننگرهار په مدرسو کې په پښتو، فارسي او عربي ژبو د ادبي، اجتماعي او مذهبي متداوله علومو تحصيل کړی دی.
بختاني په بيلابيلو دولتي پوستونو کې کار کړی دی او د ۱۳۳۹ کال په جدي مياشت کې، د ځيرونکي په درجه، د پښتو ټولنې د مسلکي غړي په توگه ومنل شو.
ښاغلی بختانی په پښتو کې ښه روان نثر او ښې ادبي پارچې ليکي. شعر يې هم سليس او له ښو بشري او ملي احساساتو ډک دی. د ده د مقالو زياته برخه ادبي او اجتماعي رنگ لري، خو په اشعارو کې يې اولسي او وطني رنگ زيات ښکاري. د ده ځينې اشعار د پښتو د موسيقی د آوازونو سره هم سمون خوري او...»

(بينوا عبداروف، اوسني ليکوال بشپړ متن، ترتيب او زياتوني: مطيع الله روهيال، علامه رشاد خپرندويه ټولنه، کندهار، ۲۰۰۹/۱۳۸۸ کال، ۱۵۴ او ۱۵۸ مخونه)

د استاد بختاني پر فرهنگي ژوند د ملي تلويزيون او افغان هنر پروډکشن له خوا يو <u>مستند</u> فلم هم جوړ دی او د ۲۰۱۶ کال په اکتوبر کې خپور شو. هغه وخت يې په <u>تاند</u> ويبپاڼه کې راپور داسې خپور شو:

يو ليکوال يو خدمتگار مستند فلم پر ليکه شو




يو ليکوال يو خدمتگار داستاد عبدالله بختاني خدمتگار د ادبي ژوند په اړه جوړ شوی مستند فلم دی چې څه موده وړاندې د ملي تلويزيون اوافغان هنر پروډکشن له خوا د گويټه انستيتوت او خير بنسټ په مالي مرسته جوړ شوی دی. ددې فلم د لاربښووني چارې د محبوب الله خان له خوا ترسره شوې دي. ديادوني وړده چې څه موده وړاندې ددې مستند فلم د پرانيستنې غونډه دملي تلويزيون په تالار جوړه شوې وه چې لسگونو فرهنگيانو، دولتي چارواکو اود استاد بختاني مينه والوپه کې گډون کړی وو.»


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځير و لولئ

ښاغلي ډاکتر لطيف ياد په خپله فيسبوک پاڼه کې د ۲۰۱۷ کال د نومبر په پنځه لسمه (15/11/2017) د استاد بختاني مفصله بيوګرافي خپره کړېده او هلته يې د بختاني صاحب د چاپ شوو آثارو شمير ۷۳ ټوکه او د نا چاپ آثارو شمير يې اته ويشت (۲۸) ټوکه ښوولی دی.
ښاغلي ډاکتر ياد د استاد بختاني د خپرې کړې بيوګرافي په يوه برخه کې داسې ليکلي دي:

«... انګريزي ژبه يې تر ځلورم ريډره پورې، د پغمان له ښاغلي محمد عمر قريشي معلم سره لوستې ده. په پښتو ژبه کې څوک استاد نه لري او خپله د خپل ځان ښوونکی دی. په پښتو شعر او ادب کې يې لارښود استادان، استاد ګل پاچا الفت، استاد قيام الدين خادم، استاد صديق الله رښتين او استاد عبدالروف بېنوا دی.
هغه په روسي ژبې سره پوره آشنا يې لري. له ۱۹۶۳ - ۱۹۶۴۴ ز. کال پورې د مسکو ښار د لومونوسوف په دولتي پوهنتون کې د روسي ژبې او ادبياتو زده کړه تر لاسه کړې، او د ژبې د تدريس او درسي موادو د تيارولو د ميتود په برخه کې يې ډيپلوم اخيستی دی. د ترجمې د ميتود کورس يې هم هماغلته په برياليتوب پای ته رسولی دی.
ښاغلی استاد بختانی دننګرهار ، هيواد ، انيس ، زيری ، پکتيا ،ورځپاڼو او مجلو مشر هم پاتې شوی دی او دکابل په پښتو ټولنې او دافغانستان دعلو په اکاډمی کې هم علمي غړی و.استاد بختانی ته دافغانستان دعلو اکيډيمی د سر څېړاند ( سر محقق ) ياپوهاند علمي رتبه هم ورکړې ده ...»

## د استاد بختاني پر مړينه باندې د ځينو خواخوږو پيامونه:

### غفور ليوال:

«زما او زما د همزولي نسل د استادانو استاد سرمحقق عبدالله بختانی خدمتګار، د خدايي خدمتګارۍ مشال، د عدم خشونت د فيلاسوفي يوازينی ژوندی يادګار، د وينو زلميانو سرلښکر او بنستوال، موږ د تل لپاره يوازې پرېښودو .
زما د وروستي علمي ـ تحقيقي اثر ( په ادبياتو کې د اسطورې څېړنه ) د ده د شفقت نښه ده، همدی زما لارښود استاد و. د ده مهرباني به تل زما د سرسيورى وي .
استاده،
ارام شوې، همداسې ارام اوسې.»

### رحمت آريا:

«خدمتګار زموږ د ادبی کهول يو ځلانده ستورى وو. دى به د تل لپاره د ادب د لمنې په آسمان کې له نورو ادبي ستورو سره يو ځاى همداسې ځلانده وي. دى نه دى مړ. يوازې له موږ بيل سو. رب العزت دې دده کورنى او ټولو مينه والو ته د زړه صبر ورکړي. جنت يې ځاى»

### استاد شاه محمود محمود:

«با خواندن اين خبر سخت متاثر شدم با مرحوم بختاني در زمان که محصل پوهنتون بودم آشنا شدم
در سيميناري در تالار سيدجمال الدين افغان در کتابخانه پوهنتون کابل
بعدا در اکثر سيمينار ها با هم ميديديم و از محضر شان فيض ميبردم إنسان دانشمند و محقق و فرهيخته يي بود
روحش شاد و يادش ګرامي باد
براي فرهنګيان و هموطنانم و به خصوص فاميل محترم شان ، وفات اين دانشمند را تسليت ميګويم
اناالله و انا اليه راجعون»

### خبريال دات کام:

«د پښتو ژبې نوميالى او ستر ليکوال استاد سر څېړونکى عبدالله بختاني خدمتګار د اوږد رنځ ګاللو وروسته د تل لپاره له دې فانى نړۍ سره مخه ښه وکړه . انا لله و انا اليه راجعون د ننګرهار ولايت د سره رود په بختان کلي کې د دې نړۍ د پښتو ادب د اسمان ځلانده ستوري د خپل ژوند په اوږدو کې د پښتو او ادب په بڼ کې تر سلو زيات علمي،تحقيقي او ادبي اثار را زيږولي او ټولنې ته يې د ډالۍ په توګه پرېښودلي،چې پښتون قوم او د ادب لارويان به يې د تاريخ په اوږدو کې هير نکړي . د خبريال ډاټ کام اداره د ستر استاد مړينه د پښتو او ادب لپاره ستره ضايعه بولي،مرحوم ته د پاک رب ج له درباره د فردوس جنتونو د ورکړې په موخه دعاوې کوي ، او د اروښاد کورنۍ،ملګرو


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

او خواخوږو ته يي د ډاډګيرني مراتبو وړاندې کوي. بايد يادونه وکړو چې د نوموړي د مړيني له امله د ننګرهار والي ګلاب منګل هم خواشني څرګنده کړي ده روح دې ښاد وي.»

## محمد طارق بزګر:

«هغه انسان چې تر مرګه يې قلم کلک نيولی وو
هغه استاد چي له ماشومتوبه ورسره اشنا وم. هغه مشر چي د پلار نژدې دوست او ملګري مي وو او هغه استاد چي تر مرګه يې قلم له خپلو خوارو او ضعيفه ګوتو ليرې نه کړ، هغه استاد چي لسګونه کتابونه يې افغان ولس ته په ميراث پرېښودل، هغه استاد چي د ويښ ځلميانو له مخکښانو څخه وو او هغه استاد چي د مرګ خبر يې ما د خپلو بېکاره اوښکو په توئېدو بدرګه کړ.
ماشوم وم استاد به د کابل په خيرخانه مينه کي کله ناکله زموږ کور ته راته، له ميني ډک انسان وو، ما هغه وخت استاد بختيانی دومره پيژانده چي د پلار نژدې دوست او کاکا مي دی، او بس.
زما د هېواد څخه د لريوالی خورا ډير کلونه تير شول، خو له نيکه بخته مي استاد څو کاله مخکي په جرمنی کي وليد، لاسونو ته يې ورتيټ شوم چې ښکل يې کړم، اجازه يې رانکړه. په لنډ او تنګ وخت کي مو ډيرې خبرې وکړې، تير وختونه تير يادونه، استاد راسره د هغه او زما د پلار ناويلي خاطري شريکي کړی او هم يې د خپلو ناچاپو کتابونو يادونه وکړه.
خپل يو کتاب يې راته ډالی کړ. په ناروې کي زما له ناخيزه فرهنګي کارونو خبر وو، په ښو الفاظو يې ياد کړل. ويل يې د پلار لار دې مه پريږده. د دعوت مجلي د دوام يې وويل زه پوهيږم په مسافرت کي ډير دروند کار دی ستونزي به ډيرې وي، څوک ځان او څوک جهان جوړوي، دلته مادي دنيا ده، په قلم کي پيسي نشته خو نيک نوم او عزت به دې د قلم له امله تل مل وي خو د هر څه سره هڅه وکړه چې د مجلي خپريدل درنه بند نه شي.
نن لوی افغانستان خپل يو لوی خدمتګار له لاسه ورکړ. خو لار يې بايد تعقيب او ارمانونه يې بايد ترلاسه شي چي هغه لوی، هوسا او سرلوړی، يو موټيو غښتلی افغانستان دی.
روح يې ښاد
پر ګور يې نور»

او يو هم دا نظر:

## بهيج عثماني:

## **«هغه سړی چې تر پايه يې خبرې وزن درلود.**
## **ارواېي ښاده او هغه دنيا يې جوړه!»**

او په پای کي د موسی شفيق هغه ليک را اخلم چي په مصر کي يې د استاد بختاني په آدرس ليکلی و. دا ليک همدا نن ګران مطيع الله روهيال د افغانستان د فرهنګ د لويو شخصيتونو د ليکونو د خپرولو په لړ کي خپور کړ. زه يې په امانتداری، د روهيال صاحب له يادوني سره د بختاني صاحب د مړيني په پار بيا را اخلم:

«د ارواښاد موسی شفيق ليک مرحوم استاد بختاني ته!
[يادونه: دا ليک له مصره ارواښاد شفيق، مرحوم استاد بختاني ته رالېږلی دئ، دا هغه مهال دئ چي شفيق مرحوم په ازهر کي محصل دئ. اوس مهال د دې ليک ليکوال او تر لاسه کوونکی دواړه زموږ په منځ کي نسته، خو د دې ليک محتوی مو د هغوی له عظمت او ايثاره خبروي. زه د خپل هيواد دواړو ښاغلو ته چي لومړی د سياست نوميالی دوهم د فرهنګ خدمتګار وو، له خدايه جنت غواړم، م. روهيال]

زما ګران ورور بختاني صاحب!

نه پوهيږم تاسي به د ځان سره د دې کاغذ د ليکلو څه علت وټاکئ؟

ډيره موده وشوه چي ما تاسي ته خط خبر نه دئ دراستولی او تاسي هم د ليک مهرباني نه ده کړي، نو اوس د دې مکتوب ليکل طبعاً کوم علت ته منسوب دي. دا علت به څه شي وي؟ تاسي ته پنځه دقيقې د فکر کولو مهلت دئ.

د دې کاغذ په آخر کښي يوه موضوع ده، مګر ګومان و نه کړې چي هغه ګوندي د کاغذ د ليکلو سبب دئ
.
که زما د کتاب د سفارش موضوع ته مو ذهن مبادرت وکړو هغه هم علت نه دئ.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

ځکه دا چي ستاسي صرف یادونه د خط لیکلو له پاره سبب کېدی شي، دا هم پوره علت ځکه نه دئ چي تاسي زما هیڅکله هېر شوي نه یاست.

معلومه شوه چي تاسي ئي علت و نه موند، یا ئي همداسي فرض کړئ! نو اوس به ئي زه درته ووایم: هغه تېره ورځ د پښتونخوا خاطراتو او د وطن د بېلتانه احساس زما په ټولو معنویاتو د منځنیو پېړیو حکومت کاوه. زه پاڅېدم د افغانستان نه د راغلو خطونو رَوَک مي ایله کړو او هلته مي ستاسي په یوه زاړه خط سترګي ولګېدې چي ومي لوست په ځان کښې مي یو شدید رغبت او د صحبت میل احساس کړو. هغه و، چي د کاغذ لیکل تري نه ضروري نتیجه شوه.

ښه! اوس دا مهمه ده چي څنګه یاست؟ ورځي شپې دي خدای پاک وکړي چي په خیر تېري شوي وي او په خیر تېري شي. (زېری) هم ډېره موده وشوه چي د راتلو نه انکار کړی دئ. نو نه پوهېږم چي اختیاري دئ که اضطراري؟ کابل مجله هم آبله ورځ یو دري نسخي راغلي. ډېري شمارې ئي پخوا تر دې نه دي رارسېدلي. شاید علت به ئي دا وي چي د زېري سره خو ما بیخي کومک نه دئ کړی او د کابل مجلې سره مي کافي مرسته نه ده کړې. مګر هلته د یو پادري په باب کښې یو مضمون ما دراستولی و، نه پوهېږم چي خپور شو که نه؟

د کتاب مسئله هم ما ته معلومه ده. که چاپ شوی وي امید کوم چي ما ته ئي هم کومه نسخه راولېږئ. یا کوشش وکړئ چي راډیو ئي راولېږي، دا د هغه ځای په متعلق هر څه زما احوال دي:

زه د پاک خدای په فضل ښه یم. رخصتي مو تېره کړه او اوس دغه دئ پرون راډیو او اخبارونو اعلان وکړ چي از هر په راتلونکي هفته کښې بیا شروع په درسونو کوي. یعني نوی تعلیمي کال دغه دئ چي شروع کېدونکی دئ. د خدای پاک نه امید کوم چي بیا په کامیابی آخر ته ورسیږي.

پروسږنی امتحان په ډېره ښه کامیابي تمام شو. د رخصتی په شپو کښې زه یو څو ورځي کلیو ته تللی وم. د کلیو خلک ډېر پاک زړونه او ډېر ډوډئ ماره طبعه لري.

د مصر آب و هوا اوس ښه شوې ده. د ګرمۍ شپې تېري شوي او دغه دئ ژمی راتلونکی دئ. دلته منی ډېر لنډ دئ. نارنجان او ګازري تازه رارسېدلي دي او د مېوه فروشانو حرص لکه چي د پوره پخېدو وار نه دئ ورکړی. د نیل دریاب هم اوس د جوش نه په کښېناستو شروع کړېده.

نن د مولد النبي علیه الصلوة والسلام بختوره ورځ ده. په دې مناسبت زما مبارکی ومنئ. خدای پاک تبارک و تعالی دي د هغه رحمة للعلمین په خاطر تاسي او موږ او د دنیا ټولو مسلمانانو ته خیر پېښ کړي او دنیا او آخرت مو دي سم کړي. دلته دا ورځ د اختر غوندي ګڼل کیږي او پوره احتفال ئي د دولت او ملت له خوا نیولی شي. هلته زما سلامونه ټولو ته چي زما پوښتنه کوي ورسوئ. آغای شېرین ته ډېر سلام ووایئ.

د خدای پاک نه ئي موفقیت غواړم. خادم صاحب خو به تاسي ته نژدې وي، که زما سلام او احترام مو ور ورساوه ډېره مهرباني به مو وي. د هغه قیمتداره نصایحو ته همېشه په احتیاج کښې یم. اللهم نفعنا به فی الدنیا والآخره. مولانا سیفي صاحب، ژواک صاحب او نورو دوستانو ته هم سلام ووایئ. لکه چي غمخور صاحب هم هلته وي، هغه طبعاً د مسافرو غمونه نه خوري او بیا خاص چي اوس پښتو ټولني ته راغلی او هلته دومره غمجنان شته چي د هغوی نیم غمونه ئي هم درست عمر بس دئ. که زما ستړي ستومان سلام غم نه ګڼي نو ورته ئي وړاندي کړه خدای پاک دي وکړي چي هغه روغ او موفق اوسي
.
اوه! بیا مي څومره سلامونه تاسي ته وسپارل. مګر وروره تاسي پوهېږئ چي بله چاره نشته. اوس هم لا د ښاغلي ځلمي سلام پاته دئ. هغه ته هم سلام ووایه. د دې سلامونو دپاسه دا د یو بل مسافر طالب خدمت:

دلته یو پښتون طالب په یو لار ځان د هند نه رارسولی. هغه هلته د قرغي د بند په عسکرو کښې یو خپلوان ضابط لري. د هغه ورسره خط کتابت و. مګر اوس اوس ئي قطع کړی او د ده کاله ته ډېره سودا ده. که زحمت نه وي کومه د جومي ورځ دي کار ته وقف کړئ ډېر ثواب پکښې دئ. د هغه ضابط نه د دغه طالب د کور د حال احوال پوښتنه وکړئ او بیا ئي لطفاً ما ته ولیکئ. پته ئي دا ده: محمدسلیم خان ضابط ټولی ۲، کنډک اول لوای ۳۲، فرقهٔ ۵ مربوط قوای مرکز مقیم قرغهٔ کابل. د طالب نوم محمدامان خان او د پیچ د درې دئ.

نور نو کاغذ ځکه نه اوږدوم چي اوس تري بل خدمت پیدا نه شي، په همدې ځای کښې زما سلام یو ځل بیا ومنئ او لاس راوړد کړئ چي خدای په امان درته ووایم .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

په ډېره مینه

ستاسي مخلص ورور

محمدموسی شفیق

په الازهر کښي افغاني محصل

د ۱۳۷٤ق د ربیع الاول ۱۲ مه»






افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de

یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ